مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۱۰/۱۱

د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

دویم ټوک

اته څلویښتمه برخه

فراه

او

د افغانستان سویلي برخې

تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

لودویک آدمک

ګرموشکي: ۵ – ۳۰ ، ۲۶ – ۶۳: دا د ګلیچاه او خواجه علي ترمنځ په دښتي کي ددمي نیولو یو ځای دی؛ کـېـدای سي که ځمکه ئـي وکیندل سي اوبـهٔ به ورڅخه ترلاسه سي.

ګرشاسپ: ۷ – ۳۰ ، ۳۵ – ۶۲: دا د اوبو د دوه وو لرغونو نهرونو یا کانالونو نوم دی چي دواړه ئـي اوس وچ دي او تقریباً په بشپړ ډول له منځه تللي دي. ښاغلي بیلو ددغو دواړو له منځه د یوهٔ نهر نښي رود بار ته نـېږدې د «پوستِ ګاو» د سیمي د ورانیو په منځ کي لیدلي وي، بیلو اورېـدلي ول چي ددي نهرونو اساسي نهر له رودبار څخه تر «فاکو[1]» پوري د « بَلبا خان» تر نامـهٔ لاندې ځغلـېـدهٔ چي دواړو خواوو ته ئـي نوري څانګي ورکولي او د سیستان د دښتي نیمایي سویلي برخي ئـي خړوبولي. بیلو وایي چي د تـېـري جملي وروستنی برخه ځکه سمه نـهٔ ده چي نوموړي په دغـهٔ لوري کي د کوم لرغون کانال نښه ونـهٔ موندله. په همدغـهٔ نامـهٔ کانال له چهار برجکه څو مایله ورهاخوا د چهاربرجک - نصرت آباد د سړک په اوږدو کي د هلمند د سیند په کیڼه غاړه کي وو. وګورئ: "بندر" (بیلو)

ګارو: ۳۶ – ۳۱ . ۵۷ – ۶۲: په دې ځای کي دوه کلي دي چي د خاشرود د شمال ختیځ په شپږ مایلی کي واقع دي. د خاش د ولسوالی د کرنیزو ځمکو لمنه په همدغـهٔ لوري کي تر دې ځایه رارسـېږي. دواړه کلي د خاشرود د سیند په کیڼي غاړې کي واقع دي. پورتنی کلی د مـدَت (مدد – ژ) خان نورزي استوګنځی دی. د کلي استوګن وګړي ئـي نورزي، افغانان، بلوڅان او فارسیوانان دي چي ۱۳۶ کورنی کـېـږي، ۸۰ غني پګو او ۳ تحویل پګو لري. بل کلی ئـي د عبدالرحمن نورزي استوګنځی دی چي په خپلي کلا کي ژوند کوي. دلته ۶۵ کورنی ژوند کوي چي ۷ پګوګاني دي چي قانوناً دولت ته د خدمت مسؤولیت لري او ۲ تحویل پګوګاني دي. (تیت، له بومي معلوماتو څخه، ۱۹۰۴)

[1] - Faku

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

یوه بله شرحه وایي چې آغا جان خان د کلي خان دی او کلی باغي حاصلات لري، غنم، وربشي، هندي جوار او ختکي په کې کرل کېږي او هم د اوښانو څرځای لري. همدلته نېږدې «راضي » روډ له خاشرود سره یوځای کېږي. (ایس. ایم. بومي معلومات. ۱۹۰۴)

گاس وپ [2]: ــ ۳۲ ، ــ ۶۳ : د کندهار – هرات پر لارې باندې د ولاړو اوبو په منځ کې، د کندهار د شمال لویدیځ په ۱۳۰ مایلی کې یو کلی دی. دا کلی د عمومي سړک له سویل څخه لږ هاخوا د یوۀ سړک پر غاړه واقع دی. ویل سوي چې پر دغۀ سړک باندې د عمومي سړک په پرتلې اوبـۀ ډېرې پریمانه دي. (تورنتون).
گــو رگي: وگورئ: گور اگي: ۲۶ ــ ۳۱ ، ۱۸ ــ ۶۴

گزي: ۴۳ ــ ۳۱ ، ۲۴ ــ ۶۴: وگورئ: د مقالي په پاې کې: لپي

* **گازک**: وگورئ: کازک: ۳۶ ــ ۳۲، ۵۴ ــ ۶۴

جیکان: ۲۲ ــ ۳۱، ۲۴ ــ ۶۲: د خاشرود پر ښی غاړې د چخانسور او خاش تر منځ تقریباً د هلیلي په مخالف لوري کې یو کلی دی. دې کلي کې د «گـُرجي بلوڅانو» ۱۵ کورونه دي. ددوی کدخدا «ملک ــ ژ» «لشکران» نومېږي. ددې کلي عمده کرنیز محصولات غنم، وربشي او ختکي دي. د رود غاړې د غز په ځنگل او د (کیرته[3]) په بوټو پوښل سوي دي، چې دا په خپله د اوښانو لپاره کافي څر ځای دی. (بومي معلومات ۱۹۰۴). *اوس دلته د خاشرود پر ښی غاړه باندې دوه کلي دي چې د خاش د سویل لویدیځ په ۱۹ مایلی کې دي.*
غم باد: وگورئ: گـُرز

غراره: ۱۲ ــ ۳۲ ، ۷ ــ ۶۳: د دلارام د لویدیځ په ۱۸ مایلی کې د بکوا په دښتي کې ددمې نیولو یو ځای دی. اوبـۀ ئـې له کاریزه دي؛ «خریل[4]» په کې پریمانه دي؛ دلته ځای پرځای بل د اړتیاوړ توکي نـۀ موندل کېږي. له دې ځایه د مایل د ربعې په اندازې وړاندې د ملا رحمدل بابا زیارت راځي چې له ډېر لـېرې څخه یوه د گز ونه له ورایه ښکاري او په همدې نښې ئـې څوک پېژندلی سي او شا ته ئـې څو د توتانو ونې هم دي. (بیت)

غارتله: ۲۲ ــ ۳۲، ۴۵ ــ ۶۴: په موسی کلا کې یو کلی دی چې د علیزیو ۱۰۰ کورنونه په کې ودان دي. (صاحبداد خان)
غوان: ــ ۳۲ ، ــ ۶۴: د زمینداور په سویل کې یو کلی دی چې د علیزیو ۵۰ کورنونه په کې ودان دي. (صاحبداد خان)

غازان ناور: ۱۶ ــ ۳۰، ۱۷ ــ ۶۴: د گلـُر- لنډي محمد امین د سړک په اوږدو کې ددمې نیولو یو ځای دی. یو بل ځای چې د «غازناور» په نامـۀ یادېږي د قلعـۀ فتح د ختیځ په ۲۲ مایلی کې په ۳۰ ــ ۳۰ ، ۲۰ ــ ۶۲ کې واقع دی.

* **غاز ناور**: وگورئ: غازان ناور: ۳۰ ــ ۳۰ ، ۲۰ ــ ۶۲

غورک: ۱۶ ــ ۳۲ ، ۲۴ ــ ۶۴: لوړوالی: ۳۵۰۰ فیټه. له گرشکه تر «سرِ تیزني» پورې د متبادل سړک په اوږدو کې د دمې نیولو یو ځای دی چې د گرشک له شمال څخه ۳۲ نیم مایله لیرې دی. شل کورونه لري. (اې . بې. سي.). *دا ځای د موسی کلا له سویل لویدیځ څخه ۲۱ مایله لیرې دی. یو بل غورک د «اسد کلا / کلا اسد» په سویل لویدیځ کې ۳۲ مایله لیرې واقع دی چې اوس د کندهار د ولایت برخه ده. د غورک په نامـۀ یو غر په چخانسور کې د جوین په لویدیځ کې په ۴۳ ــ ۳۱، ۵۰ ــ ۶۰ کې واقع دی.*

---

[2] - GĂSWAP

[3] - kirta grass : کیرته ښایي د کوم بوټي لپاره بلوڅي لغت وي د کتاب په پای کې ئـې د بومي لغاتونو په لیست کې ئـې هم نـۀ دی ورکړی
- ژ

[4] - kharil : خریل : ښایي دا هم کوم بلوڅي لغت وي. خریل د معاصر ایران د ختیځ آزربایجان د ولایت یو کلی دی. د کتاب په پای کې ئـې د بومي لغاتونو په لیست کې ئـې هم نـۀ دی ورکړی - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **غورمه**: ۴۲ ــ ۳۲ ، ۱۹ ــ ۶۳: دا دوه کلي دي چې له یو بله درې مایله لیرې دي او د مغول آباد د شمال ختیځ په تقریباً ۱۴ مایلې کې او د «رودِ مالمند[5]» له سویل څخه حدوداً ۱۰ مایله لیرې دي.

غوچ (قوچ): ۳۲ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۱: د فراه رود پر ښۍ غاړه له لاش جوین څخه تقریباً ۲۰ مایله کښته یو کلی دی چې د ځمکو لمنې ئې تر «کوهٔ غوچ» پورې رسېږي دا کلی د ورانو ویجاړو او کنډوالو په منځ کې ودان دی او ۱۰۰ کورونه په کې استوګن دي او لس غني پګوګانې لري او په لاندې ډول ورته ونډه ورکړل سوې ده.

د کلي ملک: شیرعلیخان اسحاقزی نیولي	۵	پګوګانې
سلطان علیخان نیولي	۲	پګوګانې
مبین (فارسیوان) نیولي	۳	پګوګانې

(ایس. ایم. تییت: ۱۹۰۴)

قوچ: ۳۵ ــ ۳۱ ، ۳۵ ــ ۶۱: د هامون پر شمال ختیځې ژۍ باندې د فراه رود د مصب یا خولې په لویدیځ کې څو مایله وړاندې یوه غرنۍ غونډۍ ده چې دوه مایله اوږده او نېږدې یو مایل پلنه ده. ددې غونډې (خط الاتجاه[6]) [خط راستا- شیب زاویوي] سویل ختیځ او شمال لویدیځ ته دی. دا غونډۍ د یوې ډېرې همواري ګنبدۍ یوې برخې ته ورته ده چې یوه ډډه ئې دننه لویدلې ده. دا ډډه ئې هماغه شمال ختیځه خوا ده او دا ډېر سرځوړې یا شیوه ده.
دا غونډۍ هغه مهال یوه جزیره وه کله چې د شاوخوا د جهیل اوبهٔ ئې لوړې وې او پر دوه وو خلیجونو باندې مسلطه ده یو خلیج ئې شمالي بل ئې په ترتیب سویلي خلیج دی. شمالي هغه ئې ژور دی او سویلي ئې کم عُمقه دی او په همدغهٔ یوهٔ کې دروي یا نیي شنهٔ سوي دي. دا غونډۍ په عامهٔ ژبه د «کوهٔ غوچ» په نامهٔ شهرت لري. (ایس. ایم. تییت. ۱۹۰۴).
په دې غونډۍ کې سلفر موندل کېږي او ویل سوي چې د غونډۍ په منځ کې د ویلي کولو د بټیو ورانې ویجاړې او د اوسپنې د تفالې کواړۍ لیدل سوي دي. (بلیو، ۱۸۷۲).

غلامان: ۳۳ ــ ۳۰ ، ۴۸ ــ ۶۳: د خان نشین او بګټ تر منځ د هلمند د سیند پر ښۍ غاړې باندې یو کلی دی. (بیلو). .

غلام حیدر خان: ۲۱ ــ ۳۰ ، ۵۲ ــ ۶۱: دا د سنجرانیو یو کلی دی چې د دوست محمد د کلي په نامهٔ هم یادېږي او د کمال خان د بندر تقریباً په مقابل لوري کې د هلمند د سیند پر ښۍ غاړه باندې واقع دی. دلته د اوبو یوه ښه ژرنده ده چې د سنجراني سردار په ګټه چلېږي. ویل کېږي چې دا ژرنده په ۲۴ ساعتونو کې (په هندي وزن) ۴ مَونډه ۳۰ سیره غنم اوړهٔ کوي. (وارډ. ایس. ایم، ۱۹۰۳). دا کلی د چهاربرجک د لویدیځ په ۱۰ مایلې کې دی. همدا شان وګورئ: چهار برجک

غلام خان: وګورئ: نادعلي
غلام محمد خان: وګورئ: ناد علي

غلام محمد: وګورئ: قلعهٔ کنګ

غلغله: ۳۹ ــ ۳۰ ، ۵ ــ ۶۲: د مارګو په دښتې کې د بندِ سیستان د سویل ختیځ په ۱۵ مایلې کې یو ځای دی. (آی. بي. سي.)
غُنـدِی: ۲۴ ــ ۳۲ ، ۴۵ ــ ۶۴: موسی کلا ته نېږدې یو کلی دی چې د علیزیو ۱۰۰ کورونه په کې ودان دي. (صاحبداد خان)
غُـرغُـري: ۵۷ ــ ۳۱ ، ۷ ــ ۶۱: دا د یوهٔ سیند نوم دی چې د خپل ځروبی یا آبشار بستر ته ورلویږي او له لویدیځ لوري هاروت رود ته بهېږي. ویل سوي چې دا سیند د «رودِ شور» او «رودِ میل» د یوځای کېدلو له ټکي څخه جوړ سوی دی چې نوموړي دواړه سیندونه د فارس له دَرو څخه سرچینه اخلي.

[5] - Rud -i- Malmand
[6] - strike of the strata

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هري هغه اوبـۀ چې له دې سينده هاروت رود ته رسېږي يوازې د درندو بارانونو اوبـۀ دي. مخکې له دې چې په شرکېهک کې له هاروت سره يو ځای سي اوبـۀ تر ځمکې لاندې ورکې کېږي، يو ډېر مشهور ځای دی چې هلته يوه څاه سته او دا ځای د شپنو د زړۀ د خوښې ځای دی.
د غرغرې په دواړو خواوو کې دښته د ښکار لپاره مشهور ځای دی او د هوسيو «غزالانو» او گوره خرانو د تگ راتگ ځای دی. (ايس. ايم. تيپت، ۱۹۰۴). *د غرغرې په نامـۀ يو ځروبی يا آبشار د خاشرود د لويديځ په ۷ مايلی کې په ۳۰ ــ ۳۱، ۴۵ ــ ۶۲ کې واقع دی.*

گينه: ۱۹ ــ ۳۲ ، ۲۳ ــ ۶۴: د نوزادو «په ولسوالی کې - ژ» يو کلی دی او د نوازدو د کلي په سويل ختيځ کې واقع دی. ويل سوي چې د اخکزيو ۱۱۰ کورنی په کې استوگنې دي. (صاحبداد خان). *دا کلی د موسی کلا د لويديځ په ۲۰ مايلی کې واقع دی. «زړه گين» (گينـۀ کهنه) او «نوې گينه» (گينـۀ نو) د چهار برجک د لويديځ په ۴۸ مايلی کې په ۲۰ـ ۳۰، ۲۹ ــ ۶۱ او ۱۷ ــ ۳۰، ۲۹ ــ ۶۱ کې واقع دي.*

جينه کو (جينکو): ۱۴ ــ ۳۲ ، ۵۹ ــ ۶۱ :د فراه رود پر ښی غاړه باندې له فراه څخه څو مايله لاندې يو کلی دی. دې کلي کې د فارسيوانانو ۱۵۰ جونگړې دي چې ملک ئـې مُحـّيی الدين خان قرلباش دی. دلته ښونه هم سته. (ايس. ايم. بومي معلومات، ۱۹۰۴).
گراني: ۳۸ ــ ۳۲، ۲۷ ــ ۶۲: د فراه رود پر ښی غاړه باندې يو کلی دی او په نقشه کې د شاهيوان د لويديځ په يوۀ لنډ واټن کې ښودل سوی دی. فرييز چې له (آو خُرما) څخه (چاه غز) ته روان وو دلته يو ځل دمه سوی دی، داسې ښکاري چې نوموړی هغه سړک کې چې په شاهيوان کې له سينده تـېرېږي خطا وتلی دی او دا ځای يو مخ خلاصی کلی شرحه کوي او وايي چې ۴۰ کورونه لري او د گمرکاتو د ادارې څنگ ته ۲۰۰ کـېږدۍ د سيند پرغاړو ولاړې دي. له همدې ځايه چندانې دومره ليـرې نـۀ ډېر داسې ځايونه سته او د سوځـېدلو خښتو لرغوني استحکامي کلا لا په دغـۀ وخت کې تقريباً کنډواله سوې وه. ددې ځای يوه ډډه يو ناڅاپه له سينده راپورته کـېږي او په نورو ډډو کې د «کلا ــ ژ» د بنسټ پرېږو ديوالونو ته رسـېدل، يوازې پر يوۀ شخ پيچومي باندې د ورختلو له لارې کـېږي چې ۳۰ يا ۳۵ فيټه لوړ دی.

گِرد پُشت: ۲۶ ــ ۳۰ ، ۵۱ ــ ۶۳: د اربو له لارې له نوشکي څخه د هلمند درې ته پر لاره ددمې نيولو يو ځای دی. (آی. بي. سي.). *دا ځای د گل آباد د سويل په ۳۵ مايلی کې دی.*

نوربيا
گرشک :

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک ټولی برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ